UNAMA SRSG Briefing | UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

# د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د عمومي منشي ځانګړې استازی تدامیچې یاماموتو لنډ ګزارش

*[څرنګه چې وړاندې شوی]*

## نیویارک، ۲۵ سپتمبر ۲۰۱۷

***

ښاغلي رئيس،

پداسې حال کې چې موږ د ملي یوالي حکومت دریم کال ته نږدې کیږو، زه پرمختګ وینم. زه وینم چې ننګونې لا هم ګواښوونکې دي، او همدارنګه زه د سولې لپاره د سیاسې تعامل په موخه نوي فرصتونه هم وینم.

په سر کې زه غواړم چې پر یو لړ ډګرونو باندي تمرکز وکړم کوم چې په هغه کې د کلیدې سمونونو په اړوند پرمختګونه ترلاسه شوي دی. دغه لاسته راوړنې د روان ناوړه امنیتي وضعیت په شتون کې ترسره شوي دي. که چېرې دغه سمونونه وکولای شي چې یو موټې شې او دوام ومومې، دوی به په زیاته کچه بنسټونه پیاوړي کړي کوم چې د لا زیات پر ځان متکې افغانستان لپاره اړین دي. د ولسمشر اشرف غنې او د اجرایه رئیس داکټر عبداله تر منځ ښه کارې اړیکې په زیاته پیمانه د دغو سمونونو پروسه ځواکمنه کړی ده.

د اداری فساد په وړاندې د حکومت هڅې، د ډیرو کلونو وروسته، چې دغه مهمه کمزوره کوونکې مسله هېره شوي وه، د پایلو ښودلو څرک ښکاره کړی دی. په دغه ډګر کې هڅې د اداری فساد د عدلي مرکز تر مشری لاندې ترسره شوي دې چې په زیاته پیمانه پېچلې قضیې حل کړي چې په هغه کې لوړ پوړې چارواکې شامل دې. د اداری فساد عدلي مرکز ۲۱ قضیې حل کړې او ۱۴ نورې قضیې په مرافعه محکمې کې پر دوران کې دې چې دغه مرکز ته یې ځواک ورکړی چې د حکومتې فساد لپاره د معافیت اوږد محاله ستونزې ته د پای ټکی کیږدي.

د بروکسل د کنفرانس څخه دقیقاً یو کال وروسته د اکتوبر د میاشتې په ۵ نېټه، لوړ پوړې چارواکې په کابل کې به سره کېنې تر څو په بروکسل کې د ورکړل شویو ژمنو پرمختګ باندی بیا کتنه وکړي. په دغه ناسته کې د افغانستان د حکومت لوړ پوړي

UNAMA SRSG Briefing | UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

چارواکو ته لازمه ده چې ډونرانو ته، د دوي د مالیه ورکوونکو کسانو او افغان ولس ته وښیي چې سمون او پراختیایي پروګرامونه، د افغان وګړو په ژوند کې، په واقعي بڼه ښه والي سره تعبیر کیږي. زه د ناستې د پیاوړي تیارۍ د کار له امله وهڅول شوم چې په هغه کې ټول افغانان او نړیوال شریکان فعال تعامل له ځانه ښودل. لازمه ده چې نړیوال شریکان هم له ځانه روښانه ژمنه وښیي، او زه په زیاته پیمانه ستاسو د هېوادنو د پایتختونو څخه د لوړې کچې ګډون باندې حساب کوم.

ښاغلی رئیس،

همدارنګه د پارلماني او ولسوالیو شوراګانو د ټاکنو په کار کې پرمختګ ترسره شوی کوم چې د راتلونکې جولاي په میاشت کې به ترسره شي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رایو ورکولو د ځایونو ارزونه بشپړ کړې دی، چې د راپورونو پر بنسټ تر ۹۰ سلنې څخه زیات ولسوالیو ته رسیدګې کوي. راتلونکی ګام د رایو ورکوونکو ثبت او نوم لیکنه دی. دغه دوه پروسې هغه بنسټ ایږدي کوم چې د ۲۰۰۱ کال راپدیخوا د ټاکنو د سمون په پروسه کې ډیر د اهمیت وړ ګڼل کیږي: د نوم لړ په بنسټ د رایو ورکوونکو د ځایونو رامنځته کول او د یو کارنده رایو ورکوونکو ثبت او راجستر بشپړول دي.

دا مهمه ده چې موږ باید ټاکنې د پلان سره سم ترسره کړو. د پر وخت ټاکنو ترسره کول د باور وړ نهادنو او سیاسي سیستم ته ځواک او پیاوړتیا ور په برخه کوي. که څه هم زیات شمېر برخه وال شک لري چې پر وخت او د باور وړ ټاکنې به ترسره شي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته لازمه ده چې عام خلکو ته خپل لاسرسی لا پسې زیات کړي تر څو د ټاکنو په تیاری کې دواړه زیات رونوالي او زیات چټکوالي له ځانه ښکاره کړي. په ټول هېواد کې زیات شمېر سیاتوال ماته په کراتو ویلي دي چې دوي د ۲۰۱۴ کال ټاکنو په څېر، ټاکنې نه مني. د ټولټاکنو کمیشنرانو او ټولو کار کوونکو ته یوازې یو ستر مسؤلیت پاتې دی خو د ټولټاکنو مسؤلیت یوازې د ټولټاکنو د کمیسیون مسؤلیت او دنده ندی. لازمه ده چې د ټولټاکنو د مدیریت ځانګو ته درناوی وشي او په دغه کار کې حکومت باید د ټولټاکنو د خونديتوب کولو په موخه هر ممکنه لاره خپل کړي. په دغه ډګر کې نړیواله ټولنه باید هر ډول مالي او تخنیکي مرستې چمتو کړې، د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون د کار په راس کې قرار لري او وخت هم په چټکۍ سره تېرېږي.

د ټولټاکنو د نېټې د اعلان سره سم نوي سیاسي ائتلافونه جوړ شوي چې د هغه له جمعې څخه ځینې پر حکومت باندي سخته نویکه کړي. دیموکراسیګانې با مسؤلیت اپوزیسیون ته اړتیا لري، دغه مسلې ته د یو مثبت ګام په ډول کتل کیږي. د دغه ائتلافونو زیاتره برخه د قومیت پر بنسټ رامنځته شوی چې پخوا موږ ندی لیدلی چې ملي ائتلافونه جوړیدل. په هر حال د دې خطر شتون لري چې ځینې ډلې خپل فعالیتونه پر هغه لور متمرکز کړي چې کولای شي د اساسي قانون رامنځته شوي نظم او ثبات له منځه یوسې، قومي او جغرافیایي ویش لا نور هم زیات کړي او یا دولت کمزوري کړي. پدې اړوند یوناما، د دې په موخه چې دا ډول خطرونو څخه مخنیوي کړي وي، په دوامدار توګه د ټول سیاسي فعالینو سره لاسرسی ډاډمن کړی دی.

ښاغلی رئیس،

امنیتي وضعیت لا هم یوه ستره اندېښنه ده. د عمومي منشي په راپور کې په تفصیل سره او د هغه د اصلي لاملونو په اړه معلومات وړاندي شوی دی. د اسلامي حکومت دوام، چې د داعش په نوم هم یادیږی، د هېواد په ختیزو سیمو کې او همدارنګه

UNAMA SRSG Briefing | UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

د ځېنو راپورونو له مخې نوي داعش ډله د هېواد په شمال کې او همدارنګه په کابل کې امنیتي وضعیت لا نور هم پېچلې کړی دی.

د دغې تاوتریخوالې له امله د انساني ژوند اخیستل ډېر زیات دی او په بې تبعیضه توګه ښځې او ماشومان اغیزمن کړي دي.

په افغانستان کې د امنیت په چارو کې پلان جوړونه د دې وړاندوینه کوي چې تر ۲۰۲۰ کال پورې دوی ټولې سیمې د طالبانو له ولکې څخه به بېرته لاسته راوړي. دا پداسې حال کې ده چې طالبان د حکومت لخوا د خبرو اترو وړاندیز ردوي او خپل مقاومت ته دوام ورکوي. که چېرې د ملکي وګړو مرګ ژوبله په همدې کچه روانه وي، تر ۲۰۲۰ کال پورې زیات شمېر افغانان به ووژل شي. پداسې حال کې چې د شخړې تولې خواوې دا منې چې د دې انساني غمېزې حل لاره شخړه نده. د انساني ژوند په ګډون، د رواني شخړې لګښت د سولې د پروسې لپاره استعجالیت لا پسې زیاتوي. دا یو واقعیت دی چې د تېرو څوکلونو هڅې او هاند ډېر لږ پرمختګ کړی دی. خو په عین حال کې موږ د سولې او سیاسي تعامل لپاره نوی او تازه علاقه مندی او هڅې وینو. د متحده ایالاتو د اګست په میاشت کې خپور شوي اعلامیه د افغانستان د حکومت سره د شرایطو پر بنسټ یو لړ ناڅرګندتیاوې لرې کړل. په سیمه کې هېوادونه او همدارنګه یو شمېر کلیدې هېوادونه د سولې په خاطر په فعاله توګه د سیمه ییز تعامل او هڅو په لټه کې دي. دا ټولو ته څرګنده ده چې د سولې د پروسې لپاره تیاري پېچلې دی او زغم او وخت ته اړتیا لري. اړتیا ده چې دا ډول ټولې هڅې عملي بڼه ولري او د انعطاف وړ وي؛ خو په عین حال کې اصولی وي تر څو د راتلونکې ټولټاکنو او د هېواد د راتلونکې لپاره د یو هراړخیز سیاسي پروسه ډاډمن کړي. دا یوازې هغه وخت شوني دی چې د شخړې ټولې خواوې د یو بل سره په اړیکه کې وي تر څو د یو بل د حل لاره تثبیت او تشخیص کړي. د همدې عمل پر بنسټ باور رامنځته کیدای شي او همدارنګه یوه پروسه شکل نیسي. دا ډول پروسه باید د سیمې هېوادونو ګټې په پام کې ولري او دا ممکنه کړي چې پروسه د سیمه ایزې اجماع پر بنسټ تیار شي.

زه پدې آند یم چې سیاسي حل لاره ممکنه ده. موږ باید اجازه ورنکړو چې، د بنسټیزو خبرو اترو پرته، د جګړې یو بل پړاو پیل شي. پدې صورت کې به فرصتونه له لاسه ووځي چې له امله یې په زرګونو افغان وګړي د خپل ژوند او مال په بیه د هغه لګښت به ورکړي.

زه د سیمې پر هېوادونو باندې غږ کوم چې د پر خپل ستراتېژیکو ګټو باندی یو ځل بیا ژور فکر وکړي او د سولې د یوې داسې حال لاره باندې کار وکړي چې د افغانانو په مالکېت د جګړې لپاره حل لاره و موندل شي.

زه د ملګرو ملتونو څخه غوښتنه کوم چې آماده وې تر څو ټولو خواوو سره مرسته وکړي چې دغه هدف ترلاسه شي.

د شخړې یوه بله ممکن ارخ او لګښت وروسیتو بشری حقونو لاسته راوړنې ته شا اړول دی. د ښځو او نجونو په وړاندی تاوتریخوالې لا هم په پراخ ډول شتون لري. د ښځو په وړاندې تاوتریخوالې ته جنایي بڼه ورکول، چې د یو فرمان په بڼه اعلان شوي دی لا تر اوسه هم د پارلمان لخوا ندی تایید شوي. په وسله واله شخړه کې د ماشومانو دومداره شمولیت لا هم د یو ستر خنډ په ډول پاتې دی. د یو مثبت یادونې په توګه، زه د افغان حکومت، د ملکې تلفاتو د مخنیوي او کمول ملي پالیسي د رسمي تاییدولو له امله، هرکلی کوم، او همدارنګه د افغانستان پر حکومت باندې غږ کوم چې د دغه ملي پالیسي پلې کول، د

یو رغنده عمل پلان په جوړولو سره، ډاډمن کړي. زه د بشري حقونو د شورا لپاره د افغانستان کاندیدول له امله هڅول شوی یم او هیله لرم چې د دغه موقف په کارولو سره په افغانستان کې بشري حقونه پیاوړي او مستحکم شي.

ښاغلی رئیس،

اجازه راکړي چې د امنیت شورا د غوښتنې سره سم، د عمومي منشي لخوا د یوناما ستراتېژیک بیا کتنې تر سره کولو ته ستاسې پام را مات کړم. دغه عمل موږ ته یو نوی فرصت په لاس راکړي چې خپل پر وندې باندې یو ځل بیا په ژوره توګه فکر وکړو، په ځانګړي ډول د سولې د تحقق پر مرکزیت باندی. موږ په دغه بیا کتنه کې د امنیت شورا ته د عمومي منشي سپارښتنو ته سترګې په لار یو.

د دې برسیره، څرنګه چې د افغانستان ولسمشر غوښتنه کړې ده، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو کورنې د یو داسې نوښتګر ستراتیژۍ پر طرحه باندې کار کوي چې ټول انکشافي مرستې د یو واحد مرجعې په ډول چمتو او پلې شې او دا باید د افغانستان د حکومت د لومړیتوبونو سره بشپړ همخواني ولري. ولسمشر غني زموږ وړاندیز ته ښه راغلاست ویلې او اوسمهال موږ د دوي د دفتر او د حکومت د نورو اړخونو سره له نږدې کار کوو تر څو دغه مسله په چټکۍ سره په لاره واچول شي.

ښاغلی رئیس،

هغه سپارښتنې کوم چې د ستراتېژیک بیا کتنې له امله شوي دي، په ماموریت کې د زیات کمښت لامل ګرځي. موږ اړ یو چې خپل ماموریت په خوار تمرکز او ښه جوړښت سره پلې کړو. ما په تېرو دو میاشتو کې د اتو ساحوي دفترونو څخه لیدنه وکړ او د حکومتي چارواکو، مدني ټولنو او د ملګرو ملتونو د کار کوونکو سره لیده کاته وکړل. ددغه لیدنو په ترځ کې دا څرګنده شوه چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو شتون ته د یو سترګه ور نهاد په توګه کتل کیږي. زه هیله مند یم چې یوناما د خپل ستراتېژیکو دنده په ترسره کولو کې، د افغان وګړو د اړتیا د پوره کولو په موخه په یو ښه وضعیت کې پاتې شي.

ښاغلی رئیس،

په پای کې غوواړم چې ټېنګار وکړم چې دا خورا مهمه ده چې افغان مشران مشخصې لاسته راوړنې وړاندې او له ځانه ښکاره کړي. پرمختګ باید د څلورو کلونو څخه کمه موده کې ترسره شي تر څو د وارسا او بروکسل ژمنې څخه په ښه توګه ګټه واخیستل شي. افغانستان باید خپل ډونرانو ته وښیی چې هغه د ځان بسیاینې په موخه، یوازی ګامونه نه، بلکه اوږده او پریکنده ګامونه اخیستې دي. زه هیله لرم چې افغانستان به ډېر ژر داسې وانګیرل شي چې نور نړیوال سولې ته ګواښ نګڼل کیږي مګر د سوداګرۍ او پانګونې لپاره یو ښه ځای.

ستاسو څخه مننه.

***

UNAMA
SRSG Briefing
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

یوناما له افغان ولس او دولت سره مرسته کوي څو سوله او ټیکاو ترلاسه کړي. د یوه سیاسي ماموریت په څېر د هغې له صلاحیت سره سم، یوناما د شخړو په مخنیوي او حل کې مرسته کوي، شمولیت او ټولنیزې همغږۍ ته وده ورکوي او دغه راز سیمه ییزه همکاري غښتلې کوي. ماموریت د اغیزمن حکومتولۍ ملاتړ کوي، ملي مالکیت او حساب ورکوونکو ادارو ته وده ورکوي کوم چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ جوړې شوي دي. یوناما د شخړې د رامنځته کیدو، زیاتیدو یا پراخیدو د مخنیوي په موخه د هغو ډیپلوماتیکو ګامونو په ګډون چې د ادارې پر خپلواکۍ، بې پرېتوب او ریښتینوالۍ متکي دي، د ښه نیت هڅې او نور کلیدي خدمتونه وړاندې کوي. ماموریت د افغان پراختیا او بشري لومړیتوبونو لپاره د نړیوال ملاتړ همغږی کوي.